# مسافر او د لیوانو پلونه



Ketabton.com

لیکوال

جهانزیب زهیر

ketabton.com - The Digital Library






لیکوال
جهانزیب زهیر

ketabton.com - The Digital Library



## د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم : مسافر او د لیوانو پلونه

لیکوال : جـــهانـزیـــــب زهـــــیر

ژبه : پښتو

د کتاب ډول: – رومانتیک، احساساتي، او د ژوند ازموینې

ډیزاین : لیکوال پخپله

چاپ وار: لومړی

چاپ ځای: [جلال آباد ښار ننګرهار ]

چاپ کال: ۲۰۲۶

ketabton.com - The Digital Library



## ډالۍ

"په لومړی سر کې زما مور او پلار ته چې زما په پرمختک کې نه ستړي کیدونکی هلی ځلې کړې ."

ډالۍ لوستونکي ته:

دا کتاب ټولو هغو کسانو ته ډالۍ شوی چې د ځان جوړولو، او باور په لټه کې دي، او غواړي د ژوند په هره ننګونه کې ریښتینې ازموینه تجربه کړي.

ستاسو ورور

ج.زهیر

ketabton.com - The Digital Library



# لیوان او مسافر

## د تیارو لاره

شپه داسې وه لکه چا چې ټولې نړۍ ته د تورې رنګ رنګ کړې وي.

باد د غرونو له منځه تېریده او د وچو ونو څانګې یې داسې ښوروليې لکه څوک چې ورو ورو ژاړي. د لمر وروستۍ رڼا هم د غرونو شاته ورکه شوې وه، او یوازې سپوږمۍ پاتې وه... خو هغه هم نیمه پټه، لکه د وینې داغ پرې لګېدلی وي.

یو مسافر د تنګې غرنۍ لارې په سر روان و. کالي یې خاورې، مخ یې ستړی، او سترګې یې د اوږدې لارې له ستړیا ډکې وې.

هغه ځان سره ورو وویل:

"زه باید تر بل کلي ورسېږم... مخکې له دې چې شپه لا تېره شي..."

خو د غره لاره داسې نه وه چې ژر دې ختمه شي.

ناڅاپه د لرې له ځنګله یو غږ راغی...

"اووووووو..."

مسافر ودرېد.

د زړه درزا یې تېزه شوه.

هغه ورو شا وکتل... هیڅ نه و.

خو د ځنګله له منځه دوې ځلې سترګې روښانه شوې... لکه د اور سکروټې.

ketabton.com - The Digital Library



**هغه یو قدم شاته ولاړ.**

**بیا بل غږ راغی... دا ځل نږدې.**

**"کرررررر..."**

**دا د لیوه غږ و.**

**مسافر پوه شو چې یوازې نه دی.**

**د هغه په خوله کې وچوالی پیدا شو، خو هڅه یې وکړه چې ځان قوي وښیي. هغه ورو ورو د خپل کمر له خوا یو کوچنی چاقو راوویست.**

**خو مخکې له دې چې کومه پریکړه وکړي...**

**د ونو تر شا یو سیوری حرکت وکړ.**

**ورو... خاموش... خطرناک.**

**بیا بل سیوری...**

**او بیا درییم...**

**د لیوانو حلقه ورو ورو تنګه کېده.**

**مسافر یوازې یوه جمله په زړهٔ کې تکراروله:**

**"زه باید ژوندی پاتې شم..."**

**خو هغه نه پوهېده...**

**چې دا لیوان عادي نه دي...**

**او دا ځنګل...**

**یوازې د لیوانو کور نه دی...**

**دا د ورک شویو انسانانو قبر دی.**

ketabton.com - The Digital Library



باد نور هم سخت شوی و. د غرونو ترمنځ داسې غړونه خپرېدل لکه ټول ځنګل ژوندي شي او ساه واخلي.

مسافر لا هم د چاقو نیولی ولاړ و، خو د لیوانو سترګې هره لحظه نږدې کېدې.

ناڅاپه...

یو لیوه له ونو راووځېد.

سترګې یې سرې وې، غاښونه یې لکه سپین تیغونه ښکاره وو.

مسافر شاته منډه کړه:

"لاړ شه! له ما لرې شه!"

خو لیوه یوازې نه و...

په څو ثانیو کې نور لیوان هم راښکاره شول.

یو له ښي خوا

یو له چپ خوا

او یو مستقیم د هغه مخې ته

هغه محاصره شوی و.

د ځنګله چوپتیا مات شوه...

یوازې د لیوانو کرار کرار قدمونه اورېدل کېدل.

"کررر... کررر..."

مسافر پوه شو چې تېښته اسانه نه ده.

هغه یو ناڅاپي حرکت وکړ او د یوې لویې ونې شاته منډه کړه. لیوان ورپسې شول.

ketabton.com - The Digital Library



**د ونو ترمنځ تیاره نوره هم ژوره شوه. مسافر د زړه په زور منډه وهله، خو لاره یې نه لیدله.**

**ناڅاپه...**

**پښه یې په یو څه ووهله.**

**"بم!"**

**هغه راوغورځېد.**

**چاقو یې له لاسه ولوېد.**

**د لیوانو غږونه نږدې شول...**

**یو لیوه ورو ورو د هغه مخې ته راغی.**

**مسافر سترګې پټې کړې...**

**خو هماغه وخت یو عجیب شی وشو.**

**له لرې یو بل غږ راغی...**

**خو دا د لیوه نه و.**

**دا د انسان د سوټې غږ و...**

**"فووووو..."**

**لیوان ناڅاپه ودرېدل.**

**لکه څوک چې امر ورته شوی وي.**

**د ځنګله له تیارو یوه اوږده سیوري ښکاره شوه...**

**یو نامعلوم کس...**

**تور کالي یې اغوستي وو...**

ketabton.com - The Digital Library



مخ یې نه ښکاره کېده...

هغه ورو وویل:

"دا مسافر مه لمسوه..."

لیوان شاته شول...

خو سترګې یې لا هم ویرونکې وې.

مسافر حیران پاتې شو:

"دا څوک دی...؟

ولې لیوان ترې وېرېږي...؟"

او هماغه شپه...

هغه پوه شو چې د ده ژوند یوازې د لیوانو له خطره نه و...

بلکې د یو پټ راز په منځ کې بند و. "

مسافر لا هم په ځمکه پروت و، ساه یې لنډه لنډه اخیسته. لیوان شاته ولاړ وو، لکه د کوم نامعلوم امر انتظار کوي.

هغه تور سیوری ورو ورو نږدې شو.

د هغه غږ ټیټ خو قوي و:

"مه ویرېږه... که لیوان تا خوړل غوښتل، اوس به ژوندی نه وې."

مسافر ورو پورته شو:

"ته څوک یې؟ ولې لیوان درته غوږ نیسي؟"

سړی چوپ پاتې شو... بیا یې ورو وویل:

"دا لیوان عادي نه دي... دا د انسانانو د ظلم نتیجه ده."

ketabton.com - The Digital Library



مسافر حیران شو.

سړي مخ ته خپله لاس واچاوه... او خپل مخ یې ښکاره کړ.

هغه د ځنګل ساتونکی و، یو پخوانی مسافر چې کلونه مخکې په همدې غرونو کې ورک شوی و.

هغه وویل:

"دلته یو وخت کلی و... خلکو لیوان وژل، ځنګل یې وران کړ...

خو طبیعت بدل شو... او اوس ځنګل خپله سزا ورکوي."

لیوان ورو ورو ارام شول، لکه د هغه خبرې چې یې منلې وي.

سړی د مسافر لوري ته وکتل:

"ته تصادفي دلته نه یې راغلی... ځنګل تا دلته راوستی چې یو پیغام درکړي..."

مسافر په ویره کې وویل:

"کوم پیغام؟"

سړی ځواب ورکړ:

"احترام...

که انسان طبیعت ونه مني، طبیعت به انسان ونه مني."

هماغه شپه...

مسافر د ځنګل له لارې ژوندی ووت.

خو هغه هیڅکله هم دا شپه هیره نه کړه.

او تر هغه وروسته...

ketabton.com - The Digital Library



**هغه هیڅکله په غرونو کې بې اجازې قدم کېنښود.**

**پای**

## د ارمانونو او زړورتیا سفر

**په یوه کوچني، خاموش او غرنیو کلیو کې، د ختو کورونه یو له بل سره نږدې جوړ شوي وو. د کلي خلک په زراعت او مالدارۍ بوخت وو. هره ورځ د چرګانو بانګ او د سپو غپا د سهار د پیل زنګ و. په همدې کلي کې یو وړوکی هلک اوسېده چې نوم یې معصوم و.**

**معصوم یوازې اووه کلن و، خو د سترګو له ځلا یې داسې ښکاره کېده چې د زړه دننه یې لوی ارمانونه ځای پر ځای شوي دي. هغه به تل د کلي له لوړو غونډیو سره ولاړ و، آسمان ته به یې کتل او په زړه کې به یې ویل:**

**– یوه ورځ زه باید لوی سړی شم، زه باید انجینر شم.**

**یوه ورځ یې پلار چې د کرنې کار ته روان و، هلک ورته په ډېر جدیت وویل:**

**– ابا جانه! زه غواړم مکتب ته لاړ شم، زه باید انجینر شم او خپل وطنوالو ته خدمت وکړم.**

ketabton.com - The Digital Library



پلار یې په لومړي ځل حیران شو. هغه فکر نه کاوه چې دومره وړوکی ماشوم به د ژوند د راتلونکي په اړه دومره لوی فکرونه کوي. ورو ورو یې موسکا وکړه او ویې ویل:

– زویه! سمه ده. زه به تا په مکتب کې داخله کړم.

معصوم د خوښۍ نه په منډه کور ته ولاړ، خپلې مور ته یې وویل:

– مورې جانې! ابا جان ماته وعده راکړه چې زه به په مکتب کې داخله شم.

مور یې سترګې له اوښکو ډکې شوې او په دعا یې ورته وویل:

– الله دې مل شه، زویه! ته به زما د سترګو روښانه کېږې.

له هماغې ورځې وروسته معصوم د مکتب د دروازې د پرانیستل کېدو انتظار کاوه. شپې او ورځې به یې شمېرلې. کله به یې په پټه زړه کې د ګوتو شمېر کاوه، کله به یې د کلي له ماشومانو سره د مکتب خبرې کولې.

د مکتب لومړۍ ورځ

ketabton.com - The Digital Library



بالاخره هغه ورځ راغله چې د مکتب د داخلېدو وخت و. د لمر وړانګې تازه پر کلي خورې شوې وې. مور یې د هغه د غاړې شلیدلې کمیس پاک کړ او په دعا یې ورته وویل:

– زویه! ته باید ډېر زحمت وکړې، هیڅکله له درس نه ستړی نه شې.

پلار یې لاس ونیوه او مکتب ته یې یووړ. د مکتب د دروازې مخې ته ډېر ماشومان ولاړ وو. ځینو نوی رنګه جامې اغوستې وې، ځینو د ښار نه د خپلو پلرونو راوړلې بستې درلودې. خو معصوم یوازې یو شلیدلی کتابچه او زاړه بوټان لرل.

معصوم زړه نا زړه شو، خو د مور او پلار خبرې یې په یاد کړې او له زړورتیا سره یې د ټولګي په دروازه کې قدم کېښود. ښوونکی راغی، نومونه یې ولیکل، او د هغه ورځ د معصوم لپاره د ژوند تر ټولو لویه ورځ وه.

د زده‌کړې لاره

معصوم ډېر زر د ټولګي له نورو ماشومانو جلا شو. هغه به تل د کتاب هره پاڼه په دقت سره لوستله. د شپې به چې ټول کور ویده وو، هغه به د څراغ یا لاټین رڼا لاندې درس لوست. کله به یې د ستړیا له امله سترګې ودرېدې، خو په زوره به یې ځان ویښ ساته.

ketabton.com - The Digital Library



هر امتحان کې به د اول نمرې په توګه اعلانېده. ښوونکي به په ټولګي کې ویل:

ــ ماشومان! د دې هلک په څېر زحمت وکړئ.

پلار یې په کرونده کې به د خاورې په منځ کې خولې څڅېدلې، خو د زوی د نوم په اورېدو به ستړیا ورڅخه لېرې شوه. مور یې به هره شپه د هغه لپاره دعاوې کولې.

د کلي ویاړ

کلیوال ورو ورو پوه شول چې د دوی په منځ کې یو ځانګړی هلک ژوند کوي. کله به یې د جمعې په ورځ د کلي په جومات کې د معصوم نوم اخیست، چې دا ماشوم څومره زحمتکش دی. هر څوک به د زړه له کومې ورته دعا کوله.

کلونه تېر شول. معصوم له لومړنیو ټولګیو فارغ شو او د لسم ټولګي ته ورسېد. لا هم د ټولګي د اول نمرې په توګه پېژندل کېده. ملګرو به ورته ویل:

ــ معصومه! ته به یوه ورځ ډاکټر یا انجینر شې.

هغه به په موسکا ویل:

ketabton.com - The Digital Library



ــ زه به انجینر شم، ځکه زه غواړم د کلي لپاره پلونه، سړکونه او ښوونځي جوړ کړم.

د دولسم ټولګي فراغت

ورو ورو د وخت تېرېدو سره معصوم ځوان شو. د زوی د برياوو له امله پلار يې تل د کليوالو پر وړاندې وياړ کاوه. مور يې هره ورځ د هغه د راتلونکي لپاره دعاوې کولې.

کله چې د دولسم ټولګي فراغت ته ورسېد، پلار يې د خوښۍ نه په جومات کې اعلان وکړ:

ــ سبا زما د زوی فراغت دی. ټول به راځئ!

ټول کلی خوشحاله و. ښځې د کورونو مخې ته خبرې کولې، ماشومان په شور او خوشحالۍ کې وو. معصوم د خپلې ژوند تر ټولو لويې ورځې ته په انتظار و.

د دولسم ټولګي د پای ازموينې وروسته، معصوم په ډېره مينه د خپلې راتلونکې لپاره دعا کوله. مور به يې هره شپه د ماښام لمونځ وروسته د هغه لپاره لاسونه پورته کول. پلار يې به د کلي خلکو ته ويل:

ــ زما زوی به انشاءالله اول نمره کيږي، ځکه ډېر زحمت يې کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



په کلي کې هر څوک د معصوم نوم اخيسته. ښځې به خپلو زامنو ته ويل:

– تاسو هم د معصوم په شان کوشش وکړئ. هغه د کلي د وياړ لامل دی.

د فراغت ورځې تياری

کله چې د نتايجو د اعلان ورځ نږدې شوه، ټول کليوال په تمه وو. پلار يې په جومات کې اعلان وکړ:

– سبا زما د زوی د فراغت ورځ ده. ټول کليوال به ګډون کوي.

په کور کې ځانګړی شور و. مور يې د زوی لپاره د شليدلو جامو په منځ کې يوه تر ټولو ښه جوړه پاکه کړه او په دعا يې ورته وويل:

– زويه! الله دې مل شه. سبا به ستا د خوښۍ ورځ وي.

معصوم ته هغه شپه خوب نه ورتله. په کټ کې به يې اړخ اړخ اړاوه. کله به يې فکر کاوه چې سبا به ټول کليوال زما نوم اخلي، کله به يې د مور او پلار د خوښۍ تصور کاوه.

د سهار خوږې شيبې

ketabton.com - The Digital Library



کله چې سهار شو، د لمر وړانګې پر کلي خپرې شوې. مور یې زوی راویښ کړ:

– زویه! جیګ شه، نن ستا د ژوند نوی پړاو دی.

پلار یې د کور مخې ته ولاړ و او په موسکا یې ورته وویل:

– زویه! الله دې کامیابه کړي. نن به ټول کلیوال ستا په ویاړ راټول شي.

معصوم نوې جامې واغوستې، هغه جامې چې دري ځایه یې پیونده شوې وې. د زړه له خوښۍ یې مور ته وویل:

– مورې! دعا وکړه چې زه اول نمره شم. که زه اول شوم، انعام به راکړي، ښایي بوټان وي. زه به دا بوټان ابا جان ته ورکړم، ځکه هر سهار د ننګو پښو کار ته ځي.

مور یې په اوښکو ورته دعا وکړه.

د غونډې پیل

معصوم له خپلو ملګرو سره مکتب ته لاړ. د کلي خلک هم ورو ورو غونډې ته راغلل. ځینې ښځې د زړو ټوکرونو لاندې ناستې وې، ځینې نارینه په اوږدو څادرو کې. خو د معصوم سترګې یوازې د خپلو مور او پلار په لټه کې وې.

ketabton.com - The Digital Library



**په غونډه کې مدیر اعلان وکړ:**

**ـ نن به موږ د دولسم ټولګي د نتایجو اعلان وکړو.**

**ټول زده‌کوونکي په تمه وو. معصوم زړه له وېرې او خوښۍ نه په زوره وهل.**

**د پایلو اعلان**

**مدیر د لاسپیکر له لارې وویل:**

**ـ د دې کال د ټول مکتب اول نمره دی... معصوم ولد افتاب!**

**ټول غونډه په شور کې شوه. ملګري یې په خوښۍ پورته کړل، کلیوال د تکبیر نارې وهلې. خو معصوم یوازې یوه پوښتنه په زړه کې لرله:**

**ـ ابا جان چیرته دی؟ ولې نه دی راغلی؟**

**مدیر اعلان وکړ:**

**ـ اوس د معصوم پلار ته بلنه ورکوو چې خپل زوی ته ډالۍ ورکړي.**

ketabton.com - The Digital Library



ټوله غونډه چوپه شوه. پلار يې نه و. يو ځل بيا مدير وويل، خو بيا هم هېڅوک راپورته نه شول. په پای کې مدير خپله ډالۍ ورکړه، او غونډه ورو ورو ختمه شوه.

د کور دردناکه صحنه

معصوم په خوښۍ کور ته روان شو. په لاس کې يې نوې بوټان و، چې غوښتل يې پلار ته ورکړي. کله چې د کور دروازې ته ورسېد، د خلکو شور او غوغا يې واورېده. د زړه درزا يې تېزه شوه.

کور ته ننووت، مور يې په ژړا کې وه، او پلار يې پر کټ پروت و. کليوالو ويل:

– د زړه حمله يې وکړه. نور په دې دنيا کې نشته.

معصوم د پلار لاسونه ونيول، بوټان يې مخې ته کېښودل او په ژړا يې وويل:

– اباجانه! ګوره زه اول نمره شوم. دا بوټان دې واخله، سبا به نورې دعاوې راته کوې. مه ځه، مه ځه!

خو پلار يې نه و. د هلک نړۍ تياره شوه. کليوالو جنازه تياره کړه. د هديرې پر لور چې روان شول، معصوم يوازې يوه خبره تکراروله:

– اباجانه! زه انجينر کېږم، له ما سره مه ځه!

ketabton.com - The Digital Library



## پلار له مړینې وروسته

د پلار مړینه د معصوم لپاره داسې وه لکه د اسمان لوېدنه. هغه کوچنی کور چې یو وخت د خوښیو ځای و، اوس د غمونو کور شو. مور یې په ورځو او شپو کې یوازې یوه خبره کوله:

– زویه! ستا ابا تللی، خو ته باید په خپل زحمت سره د هغه خوبونه پوره کړې. هغه غوښتل ته پوهنتون ته ولاړ شې.

معصوم به په هر سهار د پلار قبر ته تللو، د بوټانو جوړه به یې له ځان سره وړله او ویل به یې:

– اباجانه! ما ته وګوره، زه به ستا د آرمان لپاره انجینر کېږم.

## د پوهنتون خبر

یو ماښام مدیر د کور مخې ته راغی او مور ته یې وویل:

– ستا زوی، معصوم، د ټول ولایت په کچه د پوهنتون لپاره کامیاب شوی دی.

مور د خوښۍ نه په ژړا شوه. معصوم ته یې غېږ وکړ:

ketabton.com - The Digital Library



– زویه! ګوره، الله دې زحمت بې ګټې نه پرېږدي. اوس پوهنتون ته ځې.

خو د خوښۍ تر څنګ یوه اندېښنه هم وه: د پوهنتون ښار لیرې و، پیسې نه وې، او کور یې بې سرپرسته پاتې کېده.

معصوم وویل:

– مورې! زه پوهنتون ته ځم، خو ژمنه درسره کوم چې هره میاشت به یو څه پیسې پیدا کوم، تا ته به یې راوړم.

مور یې د زوی د تندي ښکلولو سره وویل:

– زویه! زه له تانه هیڅ نه غواړم، یوازې دا چې صالح انسان او علمي شخصیت شې. دا به زما تر ټولو لویه ډالۍ وي.

د سفر شپېه

کله چې د پوهنتون د سفر ورځ راغله، کلیوالو د هغه لپاره یوه وړوکې لاره پاکه کړه. مور یې د کلي تر دروازې پورې بدرګه کړه. د سترګو له اوښکو سره یې ورته وویل:

– زویه! د دې وطن د خاورې د بچیانو سترګې ستا په لور دي. عزت د علم په زده کړه کې دی. هېڅکله د خدای له عبادته غافل مه کېږه.

ketabton.com - The Digital Library



معصوم د مور لاسونه ښکل کړل او په زړه کې یې وویل:

ــ مورې! ستا دعاګانې به زما مل وي.

## په پوهنتون کې لومړۍ ورځې

کله چې پوهنتون ته ورسېد، د ښار شور یې حیران کړ. د کلي ساده ژوند او د ښار ګڼه ګوڼه ډېر توپیر درلود. زده‌کوونکي د هرې سیمې نه راغلي وو. ځینې د شتمنو کورونو اولادونه وو، په ښکلیو جامو، لپټاپونو او ښایسته بوټانو. معصوم یوازې د خپلې مور ګنډلې کڅوړه او زړې کتابچې لرلې.

خو د ده زړه پیاوړی و. ځان ته یې وویل:

ــ زه د دوی په شان جامې نه لرم، خو د دوی نه به ښه پوهېږم. ځکه زما مور دعا کړې ده.

## د مور دعاګانې

معصوم به هره ورځ د لابراتوار نه، د کتابتون نه، د ټولګي نه ستړی ستړی راوت، خو لومړی به یې مور ته زنګ وهه. مور به ورته ویل:

ــ زویه! الله دې مل شه، زه هره شپه د سهار تر لمانځه پورې ستا لپاره دعا کوم.

ketabton.com - The Digital Library



يو ځل مور ورته وويل:

– زويه! د پلار د قبر پر سر مې خوب وليد. هغه خوشحاله و او ويل يې، زما زوی معصوم د علم لاره غوره کړې ده. زويه، ستا پلار په جنت کې د تا له نوم سره خوښ دی.

دا خبرې به معصوم ته داسې ځواک ورکولو لکه چې زرګونه سرتېري ورسره ملګري شي.

د ژوند ستونزې

خو د پوهنتون ژوند اسان نه و. د کوټې کرايه، د کتابونو بيه، د خوراک ستونزه—هر څه پرې درانه ول. ځينې وخت به يې درې ورځې يوازې وچ ډوډۍ خوړله. کله کله به يې د شپې د ښار په يوه تياره کوڅه کې د برق څراغ لاندې لوست کاوه.

خو کله چې به يې د مور غږ اورېد، چې د قرآن تلاوت کوي او د هغه نوم يادوي، نو ټولې ستونزې يې هېرېدې.

د مور ناروغي

د پوهنتون د دويم کال په نيمايي کې معصوم ته د کلي نه خبر راغی: مور يې ناروغه شوې ده. هغه په تلوار کلي ته ولاړ. مور يې د کټ پر

ketabton.com - The Digital Library



سر پرته وه، د سترګو تور یې کم شوی و، خو موسکا یې بیا هم پر شونډو وه.

مور ورته وویل:

– زویه! اندېښنه مه کوه. زما ژوند پای ته نږدې دی، خو زه خوشحاله یم چې ته د پوهنتون زده‌کوونکی یې. ما ته وعده وکړه چې هیڅکله نیمګړی نه پرېږدې.

معصوم د مور لاسونه ونیول:

– مورې! زه به د خپل ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې ستا خبره منم. زه به زده کړه پای ته رسوم.

معصوم پوهنتون کې و، خو زړه یې تل د مور پر سر ګرځېده. هر ځل چې به یې زنګ واهه، د مور ټیټ او کمزوری غږ به یې اورېده.

مور به ورته ویل:

– زویه! زه ښه یم، یوازې لږه ستړیا لرم. ته خپل درس مه پرېږده.

خو د هغې ساه تنګه کېده، رنګ یې ورځ تر بلې زیړ کېده، او د وجود هډوکي یې ښکاره کېدل.

د مور وروستۍ خبرې

ketabton.com - The Digital Library



**یوه شپه معصوم ته خبر راغی:**

**ـ زر کور ته راشه، ستا مور ډېره ناتوانه شوې ده.**

**معصوم بې له ځنډه د ښار نه کلی ته روان شو. کله چې کور ته ورسېد، مور یې د کټ پر سر پرته وه. د سترګو رڼا یې کمزورې شوې وه، خو لا یې په شونډو موسکا وه.**

**مور یې ورو ورو وویل:**

**ـ زویه! ته راغلې؟ ما ته نږدې شه.**

**معصوم د مور لاسونه په خپلو لاسونو کې ونیول. لاسونه یې داسې یخ وو لکه د یخنۍ ټوټې.**

**ـ مورې! مه ځه، زه لا انجینر شوی نه یم. زه لا ستا د پاملرنې تادیه نه ده کړې. مه ځه!**

**مور یې د زوی د تندي ښکلولو سره ورو وویل:**

**ـ زویه! ما خوشحاله کړې. ستا پلار ته به ووایم چې زموږ زوی د علم لار غوره کړه. مه خپه کېږه، الله به ستا مل وي. یوازې یوه وصیت لرم: تل د خدای په لار کې اوسه، او خپل وطن ته خدمت کوه.**

ketabton.com - The Digital Library



**د مور مړينه**

**ورو ورو د مور ساه درنه شوه. د ساه اخيستو غږ يې ورو ورو ټيټ شو. معصوم په ژړا چيغې وهلې:**

**– مورې! سترګې پرانيزه! مه ځه! زه يوازې نه پرېږده!**

**خو مور يې سترګې وتړلې، او د تل لپاره يې د دې دنيا له کړاوونو ځان خلاص کړ.**

**کور کې ناره پورته شوه. کليوال راغلل. ښځې په لوړ غږ ژړل، نارينه د جنازې تيارى نيولى و.**

**معصوم د مور د لاس نه پرې کېده. په ژړا يې ويل:**

**– مورې! ما يوازې پرېښودې. زه به د چا غېږ ته سر کېږدم؟ زه به د چا دعاوې واورم؟**

**د جنازې ورځ**

**د مور جنازه د کلي په منځ کې وشوه. معصوم د قبر څنګ ته ناست و، او خاورې ته يې کتل. د مور وروستۍ خبرې يې په ذهن کې ګرځېدې:**

**– «زويه! د خداى په لار کې اوسه، وطن ته خدمت کوه.»**

ketabton.com - The Digital Library



کله چې د خاورې وروستۍ ټوټې پر مور واچول شوې، د معصوم زړه هم ټوټې ټوټې شو. هغه د قبر څنګ ته ناست و، او یوازې یوه خبره یې تکراروله:

– مورې! زه به ستا خبره منم، زه به وطن ته خدمت کوم، زه به د علم مشعل روښانه ساتم.

## د یتیمۍ احساس

له دې وروسته، معصوم یوازې پاتې شو. نه پلار ورسره و، نه مور. د یتیمۍ درد یې په زړه کې داسې ځای ونیوه چې هېڅکله یې نه پرېښود. خو د مور او پلار خبرې یې د زړه په تل کې زېرمه کړې.

هغه پوهېده چې که څه هم یتیم شوی دی، خو د مور دعاګانې لا هم د اسمان له پاسه ورسره دي.

## د پوهنتون سختې ورځې

معصوم ښار ته ستون شو او د پوهنتون زده‌کړې یې دوام ورکړې. ژوند یې ډېر سخت و. د فیس ورکولو لپاره به یې په ماښامونو کې کار کاوه.

خو د پوهنتون په لومړۍ ورځ یې یو داسې ملګری پیدا کړ چې وروسته یې د ژوند تر ټولو نږدې انسان شو. نوم یې زهیر و.

ketabton.com - The Digital Library



زهیر د زړه صافه، مهربان او هڅوونکی ځوان و. کله به یې معصوم د ستړیا پر وخت ځنګ ته کیناوه او ویل به یې:

ـ معصومه! ته یوازې نه یې، زه ستا تر څنګ یم. ستا خوبونه به یو ورځ حقیقت شي.

د دوستۍ صحنې

زهیر او معصوم د یوې کورنۍ غوندې وو. کله چې به معصوم د فیس د ستونزې له امله خپه کېده، زهیر به ورته ویل:

ـ زویه! ته خپه مه کېږه. زه به له خپلو کتابونو کاپي درکړم، ته یوازې درس ته ادامه ورکړه.

کله چې به دوی په ګډه درس کاوه، زهیر به په ټوکو ورته ویل:

ـ سبا چې انجینر شو، زه به ستا مرستیال یم.

معصوم به موسک شو او ځواب به یې ورکاوه:

ـ نه زهیره! ته به زما د تر ټولو لوی ملاتړ په نوم یادېږې.

د استاد وینا

ketabton.com - The Digital Library



**... (استاد د ټولګي په منځ کې د معصوم صبر ستايي، خو زهير هم يادوي او وايي چې:**

**– زهير د هغه ريښتينی ملګری دی، داسې ملګری چې د سختيو پر مهال هم د هغه څنګ ته ولاړ دی.)**

**وروستی کال او فراغت**

**کله چې د فراغت ورځ راورسېده، معصوم او زهير دواړه په تالار کې سره ناست وو. د نتايجو په اعلان کې معصوم د ټول پوهنتون لومړی نمره شو. زهير په سترګو کې اوښکې درلودې او معصوم ته يې وويل:**

**– وروره! ستا د بريا ورځ زما د خپل بريا ورځ ده. ستا مور او پلار به نن ډېر خوشحاله وای.**

**معصوم په غېږ کې ونيوه او ورته يې وويل:**

**– زهيره! که ته نه وای، زه به دومره لرې نه راتلم. ته زما د ژوند ورور يې.**

**د وطن لپاره خدمت**

**کله چې معصوم انجينر شو، زهير يې هم د ده تر څنګ ولاړ و. دواړو د کلي د خلکو لپاره پروژې جوړې کړې، سړکونه او ښوونځي يې رغول.**

ketabton.com - The Digital Library



خلک به حیران شول او ویل به یې:

– وګورئ! معصوم او زهیر دواړه زموږ د کلي رڼاګانې دي.

معصوم به موسکا وکړه او ویل به یې:

– زه یوازې نه یم، زه او زهیر دواړه د دې وطن خدمتګاران یو.

## د استاد ژوند

په یوه وړوکي، غرونو ته څېرمه کلي کې یو سړی اوسېده چې خلک ورته "استاد" ویل. استاد یو ځانګړی انسان و. ده د خلکو د ژوند هر اړخ کې لاس درلود: کله به ښوونکی و، ماشومانو ته به یې لیک او لوست ښود، کله به نجار و، د خلکو دروازې او کټونه به یې جوړول، کله به د کرنې په کارونو کې مرسته کوله، او کله به د ناروغانو لپاره دعاوې کولې.

د کلي خلک به ویل:

"استاد زموږ د کلي زړه دی، ځکه چې هر وخت زموږ د ستونزو لپاره یوه لاره پیدا کوي."

خو استاد ته یوه هیله تر هر څه ډېره ګرانه وه: هغه غوښتل چې د خپلو ماشومانو راتلونکی د علم په رڼا کې جوړ کړي. دی به تل خپلو ماشومانو ته ویل:

ketabton.com - The Digital Library



"زما بچو، که زه د ژوند له سختیو سره وجنګېدم، دا ځکه و چې زه له علمه بې برخې وم. خو تاسې باید زما د تېروتنو تکرار ونه کړئ. ښوونځي ته ولاړ شئ، زده کړه وکړئ. علم د انسان د سترګو رڼا ده."

ماشومان د پلار خبره منله او ښوونځي ته تلل. خو د ژوند لارې تل نرمې نه وې.

د مشر زوی ستونزې او د کلي جګړې

د استاد مشر زوی له ډېرو ستونزو سره مخ و. ده به د ښوونځي ترڅنګ د کور د کارونو بار هم پر اوږو وړ. کله به یې د خلکو په کروندو کې کار کاوه، کله به یې د لرګیو پرې کولو او د کورونو جوړولو کې مرسته کوله.

په همدې وخت کې، د کلي په منځ کې لانجې او جګړې زیاتې شوې. خلک به د وړوکي دلیل لپاره جګړې کولې: د اوبو وېش، د ځمکې سرحدونه، یا د مالونو چارې. د جګړو پر مهال به د خلکو چیغې اسمان ته ختلې، ماشومان به ژړل، ښځې به په وېرې د خپلو دروازو تر شا پټېدې.

یو ماښام د جګړې شور ماشومان له ښوونځي راووست. مشر زوی په فکر کې ډوب شو او ځان ته یې وویل:

"ولې زموږ کلی تل په جګړه کې ډوب دی؟ ولې خلک د سولې پر ځای د تورې او دښمنۍ لار غوره کوي؟"

ketabton.com - The Digital Library



**د پلار نصیحتونه او د زوی داخلي مبارزه**

**هغه شپه مشر زوی خپل ستړی بدن د کور په یوه ګوټ کې کېښېنوه. د پلار خبرې یې د زړه په ژورو کې غږېدلې:**

**"زویه، تعلیم د جګړې تیاره په رڼا بدلولی شي."**

**هلک د خپلې برخې په اړه فکر کاوه. ده د ورځې سخت کارونه کول، خو د شپې به یې د کتاب مخونه اړول. کله به دومره ستړی و چې سترګې به یې د خوب له زور نه تړل کېدې، خو بیا به یې ځان ته ویل:**

**"زه باید درس ووایم. زه باید د پلار هیلې پوره کړم. که زه زده کړه وکړم، زموږ د کلي راتلونکی به بدل شي."**

**ده د خپل پلار خبرې د ځان لپاره د ژوند لویه هدف ګرځولې وه. هره ورځ به یې د ژوند سختیو ته وویل:**

**"زه به مات نه شم. علم به زما وسله وي، نه جګړه."**

**د علم بدلون او د سولې پیغام**

**ورو ورو د هلک ژوند د علم په رڼا کې بدلېده. هغه نه یوازې په زده کړو کې بریالی کېده، بلکې د خپل کلي خلکو ته یې هم د تعلیم ارزښت ښکاره کاوه. ده خلکو ته ویل:**

ketabton.com - The Digital Library



"که موږ د جګړې پر ځای قلم ونیسو، زموږ راتلونکی به روښانه شي. که موږ د غصې پر ځای پوهه زده کړو، زموږ ماشومان به د سولې په چاپېریال کې لوی شي."

خلک د هلک په خبرو فکرمن شول. ورو ورو یې درک کړه چې د جګړې لاره یوازې ورانې او غم زېږوي، خو د علم لاره د سوکالۍ او نېکمرغۍ ضمانت کوي.

هلک د خپل پلار هغه نه هېرېدونکې خبره خلکو ته یادوله:

"تعلیم د انسان د سترګو رڼا ده."

په همدې توګه، د یوه پلار د هیلې او د یوه زوی د زحمت په برکت، یو کوچنی کلی د علم په رڼا کې د سولې او پرمختګ پر لور روان شو.

## د یو انسان د ژوند کېسه

ورو ورو د ژوند بار د نوربشر پر اوږو دومره دروند شو چې د علم د لارې څراغ یې مړ کړ. هغه نور ښوونځي ته نه شو تللی. د سهار له سپېدو سره به یې بیل او کجور په اوږه ایښود، کروندې ته به روان شو، د خلکو د کورونو دروازې به یې جوړولې، د لرګیو پرې کولو غږونه به یې هوا ته پورته کېدل.

ketabton.com - The Digital Library



هره ورځ به يې په زړه کې د يوه نوي ارمان جنازه کېده. کله به يې په زړهٔ کې وويل:

"نور درس نه شم ويلی، ژوند مې اجازه نه راکوي... خو ولې؟ ولې زما برخليک دومره سخت دی؟"

پلار يې بستر ته پرېوځېدلی و. د ناروغۍ له شدته يې د بدن هډوکي کمزوري شوي وو، سترګې يې د غم او هيلې په منځ کې ځليدې. کله به چې د خپلو ماشومانو خوا ته کتل، د زړه له تله به يې وويل:

"زما زويه، ما غوښتل چې ته په علم لوی شې... خو زما ناروغي دې لارې بندې کړې. زه دې ښښم، خو ته پوه شه چې علم د ژوند ارزښت دی."

خو نوربشر به يوازې د پلار په لور کتل، د زړه له ژورو به يې د خولې له تړون پرته اوښکې بهيدلې. هغه به ځان ته ويل:

"زه اوس يوازې د پلار د بقا لپاره کار کوم. زما درسونه د ژوند قرباني شول."

په همدې ورځو کې، د نوربشر يو ورور هم د زړه له سختې ناروغۍ سره مخ شو. د ده د زړه په منځ کې يو "سوری" پيدا شوی و، او ډاکټرانو د درملنې لپاره لويې پيسې غوښتې. د کورنۍ حال دومره خراب و چې د يوې مړۍ ډوډۍ پيدا کول ستونزمن وو.

ketabton.com - The Digital Library



نوربشر به د سهار له سپېدو کار ته وتلو او د شپې د ستړيا له زور نه بې هوښه کېده. ده ته د علم کتابونه نور يوازې يو لرې خوب ښکاره کېدل.

د کلي خلک به کله ناکله ورته ويل:

"نوربشر، ولې ښوونځي ته نه ځې؟ ته خو د خپل پلار زوی يې."

خو ده به يوازې په ټيټه ساه ځواب ورکړ:

"زما ژوند ښوونځي نه مني... زما برخليک په کار او درد کې ليکل شوی دی."

پلار د نوربشر په طرف و، د هغه ملاتړ يې کاوه.

د مخکيني واده اولادونه به تل له پلار نه د زړه غمونه پټول، خو په رښتيا يې د کور په منځ کې نوربشر ته ډېر ظلمونه کول.

د ورونو ظلم، د ژوند سختۍ او د پلار ناروغي دې پايلې ته ورسول چې نوربشر د درس له لارې بې برخې شو.

پلار، سره له دې چې ناروغ او کمزوری شوی و، خو د زړه په ژورو کې يې د نوربشر ملاتړ کاوه. کله به يې د کور په منځ کې د نورو اولادونو له ظلمونو سترګې پټې کړې، خو د زړه په تله کې به يې تل د نوربشر غم دروند بار ايښی و.

هغه به په ټيټه ساه ورته ويل:

ketabton.com - The Digital Library



"زویه، که څه هم زه کمزوری شوی یم، خو ته زما هیله یې. ستا په سترګو کې هغه رڼا وینم چې زه یې له خپلو نورو اولادونو کې نه وینم."

خو د ناسکه ورونو کړکه او سختۍ زیاتې‌دې. هغوی د پلار د ناروغۍ او بې وسۍ ګټه اخیسته، او پر نوربشر یې هره ورځ نوې ځورونې راوړلې. د سهار له کاره د شپې تر سترېیا پورې، هغه د ژوند په میدان کې یوازې د درد سیال و.

ورو ورو د درس کتابونه د خاورې لاندې پاتې شول. د ښوونځي لاره د ده له پښنو هیره شوه. د ژوند د بار درنې تیږې هغه دې ته اړ کړ چې خپل د علم خوبونه قرباني کړي.

نوربشر به په زړه کې له پلار سره ځانته ویل:

"که زه هم د کتاب پر ځای بیل او لرګی پورته کوم، دا د ژوند ظلم دی. خو ته پوهې‌ږې پلار جانه که څه هم په زړهٔ کې مې دا اور د ظلمونو له امله پټ پاتې شي."

ورروستۍ برخه: د ارمان ژړا

د پلار د اوږدې ناروغۍ وروسته، هغه ورځ هم راغله چې نوربشر د ژوند تر ټولو سخت غم تجربه کړ. د کور ستن، د ده تر ټولو لوی ملاتړی - پلار یې - له دې نړۍ لاړ. د کور انګړ د ژړا په غږ ډک شو،

ketabton.com - The Digital Library



**مور په اوښلمنو سترګو بې هوښه شوه، او د وروړونو او خوړونو راتلونکی ټول د نوربشر پر اوږو پرېوت.**

**له همدې ورځې وروسته د ژوند بار څو چنده دروند شو. د پلار له لاسه وتل يوازې د غم خبره نه وه، بلکې د ژوند ټول مصرفونه، د خلکو قرضونه، او د کور اړتياوې د نوربشر پر اوږه ولوېدې. مور يې هم د غم له شدته په بستر پاتې شوه، نور يې د کور کارونه نه شوای کولی.**

**نوربشر د ماشومۍ له هيلو لرې، د زړښت د بار لاندې وځپل شو. ده د ورځې په بازار کې ناوايي کارونه کول، د خلکو وړې ـ وړې مزدورۍ به يې منلې، د خټو د بار پورته کول، د لرګيو پرې کول، او د هرې دروازې ټکول يوازې د يوې مړۍ ډوډۍ لپاره.**

**خو هره ورځ به چې د سخت کار له امله ستړی کېده، د زړه په ژورو کې به يې يو غږ انګازې کاوه:**

**"کاشکې ما تعليم کړی وای... کاشکې زما لاس کې د بيل پر ځای قلم وای... کاشکې پلار مې ژوندی وای چې زه د ده هيله پوره کړم."**

**يو ماښام، کله چې د خټو درونډ بار يې له اوږو ښکته کړ، په خټه او خولو کې ډوب د کوڅې پر غاړه کښېناست. په زړه کې يې د خپل ژوند ټول دردونه لکه تندر راټول شول. په ټيټه ساه يې ځان سره وويل:**

ketabton.com - The Digital Library



"زه اوس د ژوند په جګړه کې يوازې يم. خو زما زړهٔ پوهېږي، که ما زده کړې کړې واى، نن به زما برخليک بل ډول و. ما چې د علم ارزښت ونه ساته، ژوند مې په ظلمونو کې تېر شو."

د ده سترګو کې اوښکې راغلې، خو هماغه شېبه يې د زړه له تله يو پيغام پيدا کړ، يو پيغام چې د ده له غمونو هاخوا نورو ته د هيلې غږ و:

"اى ځوانانو! زه د خپلې ځوانۍ قرباني يم، ځکه ما تعليم له لاسه ورکړ. تاسو مه پرېږدئ چې ژوند مو زما په څېر په تيارو کې تېر شي. تعليم وکړئ، ځکه علم د انسان عزت، وقار او د سوکالۍ يوازينۍ لاره ده. علم هغه خزانه ده چې څوک يې له تاسو نه شي غلا کولى. که پلار مو له لاسه ورکړ، که ژوند ستونزمن شي، خو تعليم به تاسو ته د نوې ورځې رڼا درکړي."

نوربشر خپل ژوند د سختيو په اور کې وسوځاوه، خو د علم د رڼا ارمان يې د نورو د لارې لپاره تلپاتې څراغ پاتې شو.

 پاى

دا د نوربشر د ژوند کيسه يوازې د يوه انسان غم نه دى، بلکې د زرګونو هغو ماشومانو درد دى چې د بې عدالتيو له امله د تعليم له لارې بې برخې کېږي. د دې کيسې پيغام ساده خو ژور دى.

ketabton.com - The Digital Library



## □ په تیاره کې د زړه انځور

شپه د ښار په ډېرو تیارو کې ډوبه وه. وربځې د سپوږمۍ مخې ته پراته وې، لکه څوک چې د آسمان په سترګو د ویرې پرده غوړوي. باران ورو ورو لګېده، خو د باد چیغې داسې وه لکه د ورک شویو روحونو نارې.

مصویر، د ښار نامعلوم انځورګر، د یوه زوړ او وچ کتابچې په لاس کې د کوڅو په اوږدو قدم واهه. د خلکو په منځ کې مشهور و چې د هغه په انځورونو کې یو راز شته – هر څوک یې چې عکس جوړ کړي، د هغه د روح پټ حقیقت ښکاري.

خو مصویر یوازې و، ډېر یوازې. د زړه په زاړه کور کې یې یوازې دیوالونه او خالي چوکاټونه ملګري وو.

هغه د خپلې ژوند ستړې لارې نه ستړی، د باد او باران تر منځ د زاړه ګرجا مخې ته ودرېد. خپل بدن یې لړزېده او د زړه له درزا سره یې ځان ته وویل:

– زه نور نه غواړم یوازې انځورونه جوړ کړم... زه غواړم څوک د زړه انځور راته جوړ کړي.

په همدې فکر کې و چې د ګرجا زړې دروازې ورو ورو خلاصې شوې. چرچ خالي و، خو په منځ کې یو څوک ولاړ و، شا یې د مصویر طرف ته وه، اوږده ویښتان یې د سپینو ځراغونو لاندې لکه د وریځې سیوري ښکاره کېدل.

مصویر ورو وویل:

– څوک یې؟

ketabton.com - The Digital Library



نجلۍ ورو مخ راواړاوه. سترګې یې د شپې رڼا لرلې – لکه غرمه چې شپه وخوري. په لاس کې یې د سور لوبیا ګل و.

– زه ماریا یم... ستا منتظره وم.

مصویر حیران شو:

– زما؟ ته ما پېژنې؟

ماریا د هغه لور ته یو ګام واخیست.

– هېڅوک ستا په څېر انځورګر نه دی. ته د خلکو له سترګو تېرېږې او زړه وینې.

مصویر د زړه له درزا نه وویرید.

– څنګه دې زما نوم زده کړ؟

ماریا وخندل، خو خندا کې درد و.

– له نړۍ ډېر ژر ورک شوم... مخکې له دې چې زړه مې د ژوند انځور بشپړ کړي.

مصویر په غاړه کې سړه لړزه تېره شوه، خو زړه کې یو عجیبه تود شعله بله شوه. د هغې سترګو ته یې وکتل.

– ته ربښتیا ژوندۍ یې؟

ماریا شاپېړې ښکته کړې:

– زه ژوندۍ یم یوازې تر هغه وخته چې ته راته انځور جوړوې.

مصویر چوپ شو. د زړه درزا یې تېزه شوه. په کرار یې خپلې کتابچې ته لاس کړ او قلم یې راویست.

– راځه، کېنه...

ketabton.com - The Digital Library



ماریا د چرچ زړې چوکۍ کې کېناسته. هر ځل چې مصویر د قلم تیزه لاره د پاڼې په سپین مخ کې کاږل، د هغې د بدن یوه برخه کمزورېده، شفافه کېده، لکه هوا.

مصویر ودرېد، په وېره یې وویل:

ــ ماریا! څه درسره روان دي؟

ماریا ورو موسکۍ شوه.

ــ هر ځل چې حقیقت ته نږدې کېږې، زه له دې نړۍ لېرې کېږم.

مصویر زړه ماتوونکی درد احساس کړ:

ــ نو ته؟ ته روح یې؟

ماریا د سترګو په اوښکو ځواب ورکړ:

ــ زه هغه څوک یم چې د خپلې مینې له لوري وژل شوې یم. زما ژوند له خیانته ډک و... او زما زړه اوس یوازې یو څوک ژوندی کولای شي ــ ته.

مصویر د قلم نیول هېر کړل.

ــ ولې زه؟

ماریا د لاس ګوتې په زړه کې کېښودې.

ــ ځکه ته یوازینی څوک یې چې یوازې مخ نهویني. ته درد هم ویني... او زه ته د زړه انځور ته اړتیا لرم، نه د بدن.

ناڅاپه چرچ لړزېد. باد په لوټه کې وګرځېده. څراغونه مړه شول. ماریا ورو ورو د تیارو په منځ کې ورکېده.

مصویر په چغه شو:

ketabton.com - The Digital Library



ـ نه! مه ځه! زه دلته يم!

ماريا ورو وېره بار غږ وکړ:

ـ که ما له منځه ولاړم، نو ته به هم يوازې پاتې شې... د تل لپاره.

مصوير د زړه له تل نه وويل:

ـ نو که د دې لپاره چې ته پاتې شې، زه دې ژوند درکوم.

عرقونه پرې روان شول. په تيارو کې يې د قلم ورو ورو تيزه کرښه کښله. د ماريا انځور ورو په پاڼه کې جوړ شو ـ خو د هغې د سترګو رڼا ځان له پاڼې پورته کړه، د ژوند سا په کتابچه کې جذب شوه.

چرچ ته رڼا راوګرځېده. خو ماريا ورک شوه.

مصوير ورو پاڼه وکتله. د انځور سترګې د ژوند په څېر ښکارېدې.

هغه ورو وويل:

ـ دا عشق نه و... دا ژوبله مينه وه.

خو له همدې شېبې وروسته، کله چې مصوير د ښار په کوڅو وګرځېده، خلک به ودرېدل، د هغه مخې ته به په هوا کې د يوې نجلۍ سيورې څرګند شو ـ يوازې هغه به يې ليدای شو.

ماريا د هغه تر څنګ ګرځېده.

هر شپه. هر قدم.

مصوير د خلکو سترګو ته وکتل:

ـ مينه تل ژوند نه وي... ځينې وخت ويره هم مينه وي.

ketabton.com - The Digital Library



او خلک تر هغه ورځې حیران پاتې شول چې مصویر د خپل انځور مخې ته مړ وموندل شو، په لاس کې یې د ماریا پاڼه وه – د هغې انځور موسکا لګیا وه.

خو انځور بدل شوی و:

د ماریا سر د مصویر په اوږه ایښی و... لکه ژوندۍ مینه.

## د غمونو سوداګر

د ماښام تیاره خوره وه. د غرونو پر څوکو وروستۍ وړانګې مړې کېدې. یو نری باد چلېده او د ونو پاڼې یې رپولې. د یوه لوی ډبرین غره په لمن کې یو ځوان ولاړ و. نوم یې حامد و.

حامد شل کلن ځوان و، خو د عمر نه ډېر سترګی ښکارېده. د هغه سترګو د ډېرو دردونو کیسې کولې. جامې یې زړې وې او بوټان یې له ډېرو مزلونو ستړي شوي وو.

هغه د غرونو لور ته وکتل او ورو یې وویل:

"ای خدایه! آیا زما د ژوند دا تیاره به کله ختمه شي؟"

د هغه کورنۍ بې وزله وه. پلار یې ناروغ و او مور یې د کور د ستونزو له امله شپه او ورځ اندېښمنه وه. حامد د انجینر کېدو خوب درلود، خو د ژوند سختیو د هغه ټولې هیلې د تیارو تر سیوري لاندې راوستې وې.

هغه شپه چې کور ته ستون شو، د مور سترګې له اوښکو ډکې وې.

مور یې وویل: "زویه، په کور کې نور اوړه هم نه شته."

ketabton.com - The Digital Library



د مور خبرې د حامد پر زړه د چاړې په څېر ولګېدې. هماغه شپه یې پرېکړه وکړه چې مسافر شي او د خپل قسمت د بدلولو لپاره پردي وطن ته ولاړ شي.

خو هغه نه پوهېده چې دا سفر به یې له داسې سختیو سره مخ کړي چې څو ځله به د مرګ تر پولې ورسېږي...

هغه شپه د حامد لپاره تر ټولو اوږده شپه وه. د کور په زاړه کوټې کې ناست و او د چت زړو لرګیو ته یې کتل. د مور خبرې لا هم د هغه په غوږونو کې انګازې کولې:

"زویه، په کور کې نور اوړه هم نه شته."

حامد سر ټیټ کړ. زړه یې له درد نه ډک و. پلار یې له څو میاشتو راهیسې ناروغ و او د درملنې توان یې نه درلود. کوچني ورونه او خویندې یې د راتلونکي په تمه وو، خو د ژوند ستونزو د هغوی پر کور سیورې غوړولې و.

هغه شپه حامد تر ناوخته ویښ پاتې شو. کله به یې د انجینرۍ خوبونه یادول او کله به یې د کور ستونزو ته فکر کاوه. بالاخره یې پرېکړه وکړه چې مسافر شي.

سهار وختي له خوبه پاڅېد. مور یې د تنور تر څنګ ناسته وه. د سترګو لاندې یې د بې خوبۍ نښې ښکاره وې.

حامد ورو وویل:

"مورې، زه غواړم مسافر شم."

مور یې حیرانه شوه.

"زویه! پردی وطن ډېر سخت وي."

حامد ژوره ساه واخیسته.

ketabton.com - The Digital Library



"زه پوهېږم مورې، خو دلته هم ژوند اسان نه دی. زه غواړم کار وکړم، درس ووایم او یوه ورځ انجینر شم."

د مور سترګې له اوښکو ډکې شوې.

"خدای دې مل شه زویه."

ماښام یې له خپل ناروغ پلار سره هم خبرې وکړې.

پلار یې د حامد لاس ونیوه او ویې ویل:

"زویه! سړی په سختیو لویېږي. که کله ستونزې درته مخې ته شوې، هیله مه بایله."

دا خبرې د حامد په زړه کې د تل لپاره نقش شوې.

د سفر پیل

له څو ورځو وروسته د سفر ورځ راورسېده.

د کلي په پای کې مور، پلار، وروڼه او خویندې ولاړ وو. د خدای پامانۍ شېبې ډېرې درنې وې.

مور یې حامد غېږ کې ونیو.

"زویه! هر چېرته یې، لمونځ مه هېروه او ځان ته پام کوه."

حامد د مور لاسونه ښکل کړل.

کله چې د کلي له وروستۍ غونډۍ واوښت، څو ځله یې شاته وکتل. د خپل کور لوګی یې ورو ورو د سترګو له نظره ورک شو.

هماغه وخت یې احساس وکړ چې د ژوند نوی باب پیل شو.

د غرونو خطرناکه لاره

ketabton.com - The Digital Library



حامد له ځو نورو مسافرو سره روان شو. هغوی باید له لوړو غرونو تېر شوي وای.

ورځې تېرېدلې او سفر اوږدېده.

یوه شپه سخت باران پیل شو. باد دومره زورور و چې ونې یې خوځولې.

مسافرو په یوه غار کې پناه واخیسته.

حامد د غار له خولې د باران څاڅکو ته کتل. په زړه کې یې سلګونه فکرونه ګرځېدل.

"ایا زه به خپل هدف ته ورسېږم؟"

خو لا یې نه پوهېده چې اصلي سختۍ لا مخې ته پرتې دي.

ناڅاپي پېښه

درې ورځې وروسته دوی د یوه لوی ځنګل سیمې ته ورسېدل.

دا ځنګل ډېر پراخ او خطرناک و. د ورځې به هم پکې تیاره ښکارېده.

د سفر لارښود وویل:

"ټول یو ځای پاتې شئ. که څوک بېل شو، پیدا کول یې ډېر ګران دي."

خو قسمت بل څه لیکلي وو.

د ماښام پر مهال سخت مه واره پیل شوه. لیدل کم شول.

حامد د یوې لویې ونې تر څنګ تم شو، خو کله چې بېرته د خپلو ملګرو لور ته وکتل، هېڅوک نه وو.

هغه یوازې پاتې شوی و...

ketabton.com - The Digital Library



د ځنګل له لرې څخه د نامعلومو حیواناتو غږونه راتلل.

تیاره ورو ورو خپرېده.

حامد پوه شو چې هغه د ځنګل په منځ کې ورک شوی دی.

او دا د هغه د ژوند د تر ټولو خطرناک سفر پیل و...

حامد د ځنګل په منځ کې یوازې ولاړ و. شپه ورو ورو خپرېده او د ونو سیوري د تیارو په شان هر لور ته غځېدل.

هغه څو ځله د خپلو ملګرو نومونه واخیستل:

"احمد!... کریم!... څوک شته؟"

خو یوازې د ده د غږ انګازې بېرته راتلې.

د باران څاڅکي لا هم اورېدل کېدل. جامې یې لمدې شوې وې او د یخنۍ له امله یې بدن رپېده.

حامد پوه شو چې نور باید د ځان لپاره د شپې تېرولو ځای پیدا کړي.

هغه د یوې سترې ونې لاندې کېناست. شاوخوا یې یوازې تیاره وه. کله به یې د پاڼو خوځېدل اورېدل او کله به د نامعلومو حیواناتو غږونه.

ناڅاپه له لرې د لیوه غپا واورېدل شوه.

د حامد زړه په چټکۍ ودرېده.

هغه سمدستي پورته شو او یوې ونې ته وخوت.

شپه اوږده وه.

هره شېبه به یې فکر کاوه چې کوم حیوان به راشي.

د مور، پلار او کور یادونه یې کوله.

ketabton.com - The Digital Library



له سترګو یې اوښکې روانې شوې.

هغه لومړی ځل احساس کړ چې انسان کله په رښتیا یوازې شي، نو د خپل ژوند ارزښت درک کوي.

د لوږې او تندې پیل

سبا سهار د لمر وړانګې د ونو ترمنځ ښکاره شوې.

حامد له ونې راکښته شو.

نس یې سخت وږی و.

له پرون راهیسې یې څه نه وو خوړلي.

هغه د ځنګل په منځ کې روان شو. کله به یې د اوبو لټه کوله او کله به د خوړو.

څو ساعته وروسته یې د کوچني چینې غږ واورېد.

په منډه ورغی.

کله چې اوبو ته ورسید، په شوق یې اوبه وڅښلې.

خو د خوړو ستونزه لا پاتې وه.

ورځ تر ماښامه ورسېده.

حامد ستړی او کمزوری شوی و.

ناآشنا غږ

د دویمې شپې په پیل کې، هغه د اور رڼا ولیده.

لومړی یې فکر وکړ چې شاید خوب وینې.

خو کله چې نږدې شو، رښتیا هم اور بل و.

ketabton.com - The Digital Library



د اور ترڅنګ يو سپين ږيری سړی ناست و.

د هغه جامې د دې سيمې نه ښکارېدې.

سړي حامد وليد او حيران شو.

حامد هم ودرېد.

د ځو شيبو لپاره دواړه يو بل ته کتل.

سپين ږيري په پردۍ ژبه خبرې وکړې.

حامد هېڅ ونه پوهېد.

خو سړي په لاس اشاره وکړه چې ورنږدې شه.

حامد ورو ورو ورغی.

سړي ورته د خوړو يوه ټوټه ورکړه.

حامد دوه ورځې وږی و.

هغه په مننې سره خواړه واخيستل.

وروسته معلومه شوه چې د هغه سړي نوم "يوسف" و.

يوسف د يوه بل هيواد اوسېدونکی و.

هغه هم کلونه مخکې په همدې ځنګل کې له ستونزو سره مخ شوی و او اوس يې د ځنګل په څنډه کې ژوند کاوه.

يوسف د حامد کيسه واورېده.

هغه په ماتې ژبې ورته وويل:

"ته زړور ځوان يې. خو دا ځنګل د ډېرو خلکو قبر شوی دی."

حامد په حيرانتيا وپوښتل:

ketabton.com - The Digital Library


"ایا زه له دې ځایه وتلای شم؟"

یوسف لږ موسکی شو.

"هر څوک وتلای شي، خو یوازې هغه څوک چې امید له لاسه ور نه کړي."

درې ورځې حامد له یوسف سره تېرې کړې.

دواړو د ځنګل له خطرونو ځان ساته.

خو یوه ورځ یوسف وویل:

"موږ باید د سیند بلې غاړې ته لاړ شو."

هلته د وتلو لاره وه.

دوی دواړه روان شول.

تر څو ساعتونو مزل وروسته یو لوی او زورور سیند ته ورسېدل.

اوبه په شدت بهېدلې.

حامد لږ وېرېدلی و.

خو بله لاره نه وه.

دوی د سیند له غاړې تیرېدل چې ناڅاپه د حامد پښه وښوېده.

هغه چیغه کړه:

"یوسفه!"

او په یوه شیبه کې د سیند تېزو اوبو ځان سره یووړ...

حامد د مرګ او ژوند ترمنځ د اوبو په څپو کې ورک شو.

او نه پوهیده چې برخلیک به یې چیرته ورسوي...

ketabton.com - The Digital Library



حامد د سیند په تیزو اوبو کې تاوېده. کله به اوبو لاندې شو او کله به بېرته راښکاره شو. د مرګ سیوری یې پر سر ګرځېده.

په وروستۍ شېبه کې یې د یوې ونې څانګې ته لاس واچاوه. خو ځواک یې ختم شوی و. سترګې یې تیارې شوې او بې هوښه شو.

کله چې راویښ شو، ځان یې په یوه کوچني کور کې وموند. د یوه ناآشنا هیواد یو بزګر هغه ژغورلی و.

حامد په یوه پردي کلي کې و. ژبه یې نه پوهېده او څوک یې نه پېژندل.

هغه څو میاشتې هلته پاتې شو. د بزګر په کروندو کې به یې کار کاوه. د ورځې به یې کار او د شپې به یې مطالعه کوله.

خلکو د هغه زحمت ولید او ورو ورو یې درناوی پیل کړ.

خو د هغه په زړه کې لا هم د کور او وطن درد ژوندی و.

فصل ۶: د کار سخت کلونه

حامد ښار ته ولاړ. هلته یې د ودانیزو کارونو په یوه شرکت کې مزدوري پیل کړه.

د سمنټو بوجۍ به یې پورته کولې، خښتې به یې انتقالولې او تر سخت لمر لاندې به یې کار کاوه.

کله چې به یې انجینران لیدل، زړه به یې ویل:

"یوه ورځ به زه هم انجینر شم."

خلکو به پرې خندل، خو هغه به خپل هدف نه هېراوه.

فصل ۷: د مینې درد

یوه ورځ د خپل وطن یو ملګری ورسېد.

ketabton.com - The Digital Library



هغه ورته وويل:

"هغه نجلۍ چې تا ورسره مينه لرله، اوس واده شوې ده."

دا خبر د حامد پر زړه د تندر په څېر ولګېد.

شپه يې تر سهاره ويښه تېره کړه.

خو وروسته يې پرېکړه وکړه چې خپل ټول پام به درس او راتلونکي ته واړوي.

له کلونو زحمت وروسته حامد دومره پيسې راټولې کړې چې پوهنتون ته داخل شي.

د انجينرۍ پوهنځي ته شامل شو.

ورځ به يې کار کاوه او شپه به يې درس.

کله به دومره ستړی و چې د کتاب پر مخ به ويده شو.

خو هيله يې ژوندۍ وه.

د پوهنتون په دويم کال کې يوه مهمه ازموينه کې ناکام شو.

هغه ورځ ډېر ناهيلی شو.

حتی د پوهنتون پرېښودو فکر هم ورغی.

خو د خپل پلار خبرې يې رايادې شوې:

"زويه، سړی په سختيو لويېږي."

حامد بيا له سره مبارزه پيل کړه.

کلونه تير شول،د فراغت ورځ راورسيده.

ketabton.com - The Digital Library



حامد د انجینرۍ سند په لاس کې نیولی و.

هغه شیبه یې د مور او پلار، د ځنګل تیارو، د سیند څپو، د لوږې شپو او د خلکو سپکو خبرو یادونه وکړه.

له سترګو یې اوښکې روانې شوې. دا د بریا اوښکې وې.

حامد خپل وطن ته ستون شو.

هغه کلي ته لاړ چې یو وخت ترې په تشو لاسونو وتلی و.

اوس خلک ورته په درناوي ولاړ وو.

هغه هلک چې یو وخت به خلکو پرې ملنډې وهلې، اوس یو بریالی انجینر و.

حامد د پلونو، سړکونو او ودانیو په جوړولو پیل وکړ.

هغه غوښتل چې د وطن ځوانانو ته وښيي چې فقر، غم او سختي د بریا مخه نه شي نیولی.

هر ځوان ته به یې ویل:

"زه هم یوه ورځ د غمونو سوداګر وم، خو هیله مې له لاسه ور نه کړه."

او همدا راز د هغه ژوند د زرګونو خلکو لپاره د امید کیسه شوه.

پای

د ژوند تر ټولو لوی راز دا دی: هغوی چې له دردونو تیرېږي، د بریا ارزښت ښه پیژني.

حامد له غمونو، لوږې، مسافرۍ، ځنګل، سیند، ناکامۍ او بې وسۍ تیر شو، خو تسلیم نه شو. له همدې امله یوه ورځ د خپل تقدیر لیکوال شو.

لیکوال جهانزیب زهیر

ketabton.com - The Digital Library



# د مور وروستۍ هیله

یو غریب هلک و. پلار یې کلونه مخکې وفات شوی و او یوازې له خپلې مور سره اوسېده. مور یې د خلکو په کورونو کې کار کاوه، څو خپل زوی ښوونځي ته ولېږي.

هر سهار به مور بې له دې چې پخپله ښه خواړه وخوري، زوی ته به یې ډوډۍ تیاروله او ویل به یې: "زویه! ته یوازې درس وایه، زما ټول خوبونه ستا په بریا پورې تړلي دي."

هلک لوی شو، پوهنتون ته لاړ او بیا په یوه ښه دنده وګمارل شو. خو د وخت په تېرېدو یې مور هېره کړه. کله چې مور به زنګ ورته واهه، هغه به ویل: "مورې! مصروف یم، وروسته خبرې کوو."

یوه ورځ ورته د کلي له یوه سړي زنګ راغی: "ژر راشه، مور دې ډېره ناروغه ده."

هلک په بیړه کور ته روان شو، خو کله چې ورسېد، مور یې د ژوند وروستۍ سلګۍ وهلې. د مور سترګې د دروازې پر لور وې، لکه د خپل زوی انتظار چې یې کاوه.

مور په کمزوري غږ وویل: "زویه... ما تل ستا بریا غوښتله... یوازې یوه هیله مې وه... چې یو ځل دې راته وواېې: مورې! زه درسره مینه لرم..."

د هلک سترګې له اوښکو ډکې شوې. د مور لاس یې ونیو او ویې ویل: "مورې! زه درسره ډېره مینه لرم."

خو دا خبرې ناوخته شوې وې. د مور لاس ورو ورو سړ شو او سترګې یې د تل لپاره پټې شوې.

ketabton.com - The Digital Library



هغه شپه هلک د مور د خونې په یوه زاړه صندوق کې یو لیک وموند. په لیک کې لیکل شوي وو:

"که یوه ورځ زه نه وم، زویه! مه ژاړه. زه به خوشحاله یم چې ټول عمر مې ستا لپاره تېر کړ. یوازې دومره مه هېروه چې د مور زړه هغه ځای دی چې تل ستا لپاره درزیږي، که ژوندۍ وي او که نه وي."

هلک تر سهاره د مور پر خالي بستره ناست و او ژړل یې، خو هغه غږ چې تل به یې ورته ویل: "زویه!" نور هیڅکله بیرته رانغی.

ketabton.com - The Digital Library



## د لیکوال په اړه

جهانزیب زهیر د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ اوسیدونکی، چې په۱۳۸۳کال کې زیږیدلی او په ۱۴۰۴ کال کې د ښوونځی څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۴۰۴ کې په عمومي کانکور کې د ننګرهار پوهنتون ته د ساینس پوهنځی ته بریالي شو.

ښاغلی زهیر یو باتجربه انسان چې د خپل ولس لپاره هلي ځلې کوي.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*